# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۳مه ګڼه | پرله‌پسې ۱۷ مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۱/۲۸



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- افغانستان په ۱۴۰۳ کال کې نږدې ۳۳ زره ټنه انځر صادر کړي

۲- د سټنډرډ عالي شورا په دریېمه غونډه کې ۳۰ نوي سټنډرډونه تصویب شول

۳- پنجشېر کې د برېښنا بند جوړېږي

# افغانستان په ۱۴۰۳ کال کې نږدې ۳۳ زره ټنه انځر صادر کړي



انځر د افغانستان له هغو کرنیزو محصولاتو څخه دي، چې هر کال یې زرګونه ټنه بهرنیو هېوادونو ته صادرېږي.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت مسوولینو ویلي، په ۱۴۰۳ کال کې بېلابېلو هېوادونو ته د ۱۶۵ میلیونو ډالرو په ارزښت ۳۲ زره او ۸۱۴ ټنه انځر صادر شوي دي. یاده کچه انځر هند، پاکستان، متحده عربي اماراتو، امریکا، عمان، قطر، برتانیې، کاناډا او هالنډ ته صادر شوي دي.

رسمي شمېرې ښيي چې د ۱۴۰۲ کال په پرتله په ۱۴۰۳ کال کې د انځرو صادراتو کې ۲۸ میلیونه ډالر زیاتوالی راغلی.

افغانستان کرنیز هېواد دی. کرنه د افغانستان د اقتصاد د ملا تیر جوړوي. په همدې اساس افغانستان کې ډېره وچه او تازه مېوه تولیدېږي چې صادرات یې ګاونډیو او لرې هېوادونو ته ترسره کېږي.

کندهار، هرات، بلخ او جوزجان هغه ولایتونه دي چې ډېر او باکیفیته انځر تولید او بازار ته یې وړاندې کوي. د افغانستان اقلیم او خاوره د انځرو د تولید لپاره مناسبه ده.

پر افغانستان باندې د یوشمېر هېوادونو بانکي تحریمونه او د ویزو ورکړه کې سختي هغه لاملونه دي چې نورې نړۍ سره یې د افغانستان د لا ډېرو صادراتو مخه نیولې ده. که چېرې یادې دوه ستونزې حل شي، افغانستان به د نړۍ بازار کې خپل اوسنی ځای لا نور مستحکم او پراخه کړي، چې دې سره به د افغانستان کرنې ته ګټه ورسېږي.

د وچې مېوو صادرونکو ویلي، که د دوی د صادراتو پر وړاندې بهرنۍ خنډونه لرې شي، نو د افغانستان د انځرو په ګډون د وچې او تازه مېوې صادرات به لا ډېر او په نړیوال مارکیټ کې به برلاسي وي.

# د سټنډرډ عالي شورا دربیمه غونډه کې ۳۰ نوي سټنډرډونه تصویب شول

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ۱۴۰۴ کال د وري په ۲۴مه نېټه د سټنډرډ عالي شورا دربیمه نوبتي غونډه کې په بېلابېلو



برخو کې ۳۰ نوي سټنډرډونه تصویب شول. دې غونډې ته د وینا پرمهال د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د سټنډرډ عالي شورا په غونډو کې د افغانستان د تولیداتو پر کیفیت بحث کېږي او د ښه کېدو او تضمین په موخه یې معیاري سټنډرډونه تصویبېږي. دا سټنډرډونه تولیداتو ته نړیوال اعتبار ورکوي او د صادراتو په زیاتوالي کې هم مهم رول لوبوي. غونډې ته د سټنډرډ ملي اداري (انسا) له لوري خپل کاري راپور هم وړاندې شو. مسوولینو وویل

چې د معیاري تولیداتو په موخه یې په بېلابېلو برخو کې سلګونه سټنډرډونه اړوندو تولیدي فابریکو، شرکتونو او ادارو ته معرفي کړي دي او له ګڼو تولیدي فابریکو څخه یې نظارت هم کړی دی.

د سټنډرډ عالي شورا دربیمې نوبتي غونډې ته د خوراکي توکو او کرنیزو محصولاتو، درملو او ارایشي لوازمو، ساختماني توکو، الکترونیک او مخابراتو، نساجي او چرم، چاپېریال ساتنې، طبي وسایلو، کانونو او د ځارویو د حلالې برخو کې ۳۰ نوي سټنډرډونه د تصویب له پاره وړاندې شول، چې له هراړخیز بحث وروسته تصویب شول. دغه راز، د سټنډرډ ملي اداري له لوري د ازمایښت لسګونه کړنلارې هم وړاندې شوې چې د شورا له لوري تصویب شوې.

د سټنډرډ عالي شورا غونډه کې د سټنډرډ ملي اداري رئیس ملا فیض الله تمیم هم ګډون کړی و. نوموړي په خپلو خبرو کې وویل، سټنډرډونه په کورنیو تولیداتو د خلکو باور زیاتوي.

سټنډرډونه په هېواد کې د معیاري تولیداتو او معیاري صادراتو له پاره مهم دي. سټنډرډونه که په ښه ډول تطبیق شي، نو هېواد کې د بې کیفیته توکو د تولید مخه نیول کېږي او هم به د هغو بې کیفیته توکو د واردولو مخه ونیول شي، چې له بهرنیو هېوادونو څخه افغانستان ته راځي.

د سټنډرډونو پلي کېدلو سره د یو هېواد اقتصادي ګټې خوندي او سوداګري یې زیاتېږي. دغه راز، پر حکومت د خلکو باور زیات او خلکو ته معیاري خدمات وړاندې کېږي.

له دې وړاندې هم د سټنډرډ عالي شورا دوه غونډې شوې، په هره غونډه کې لسګونه نوي سټنډرډونه د معیاري تولیداتو، صادراتو او وارداتو په موخه تصویب شوي دي.

## پنجشېر کې د برېښنا بند جوړېږي

پنجشېر د هېواد له هغو ولایتونو څخه دی، چې پریمانه اوبه لري. په یاد ولایت کې له اوبو څخه د برېښنا د تولید کافي ظرفیت شته، چې کولی شي د پنجشېر د اوسېدونکو د برېښنا ستونزه حل او په یاد ولایت کې صنعتي کارونو ته پراختیا ورکړي. یو نړیوال



بهرني شرکت ویلي، چې په پنجشېر کې د برېښنا بند جوړوي. د پنجشېر امارتي مسوولینو ویلي، یاد بند به په پریان ولسوالۍ کې جوړ شي، چې اوس د دغه بند تخنیکي سروې روانه ده.

په دغه بند شل میلیون ډالر لګښت کېږي، چې لس مېګاواټه برېښنا به تولید کړي. یاد بند به له فعالېدو وروسته د ۱۰ زره کورنیو د برېښنا ستونزه حل کړي. د پریان ولسوالۍ سربېره په شتل ولسوالۍ کې هم د برېښنا یو بند جوړېږي، چې لومړنۍ سروې یې بشپړه شوې ده. د شتل ولسوالۍ بند به له جوړېدو وروسته نږدې پنځه مېګاواټه برېښنا تولید کړي.

اسلامي امارت د هېواد له اوبیزو سرچینو څخه سالمې ګټې اخیستنې ته ژمن دی او هڅه کوي، هغه اوبه په سم ډول مدیریت کړي، چې په تېرکې ورته پاملرنه نه ده شوې.